مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکټر لودویګ آدمک
ترجمه: رحمت آریا

۲۰۲۶/۰۴/۲۶

# د افغانستان بایوګرافیکي قاموس
## دوهم ټوک
### (اته دیرشمه برخه)

## حلیمه بوبو جان

د ,میر واعظ د زوی ملا سید عتیق الله لور او د امیر دوست محمد خان لمسی په ۱۸۶۸ز کال کې زېږېدلې ده. ,د ملا سید عتیق الله مور د امیر دوست محمد خان لور وه – ژ د امیر عبدالرحمن خان مېرمن او د محمد عمر جان مور. پر تخت باندې د ځای ناستي پر سر له سردار حبیب الله خان او سردار نصرالله خان سره په شخړو کې وه.

## عبدالرزاق حامد

د سردار محمد نادر زوی په ۱۸۹۵ز کال کې د ننګرهار په ,,سُرمه،، [1] کې زېږېدلی دئ. په شریعت، تأریخ او ادبیاتو کې ئې خصوصي تحصیلات کړي دي. له ۱۹۱۸ تر ۱۹۲۵ز کال پورې د مزار شریف حاکم ,ولسوال,[2]. د خوګیاني ,د خربون او وزیر,[3] د قبیلې مشر، او د ۱۹۲۸- ۱۹۲۹ز کال د کورنۍ جګړې پر مهال د سرخرود د یوې برخې مشر. له ۱۹۲۹ – تر۱۹۳۰ ز کال پورې د کونړ والي. له ۱۹۳۰ تر ۱۹۳۲ز کال پورې د پروان ,شمالي ولایت, والي؛ له ۱۹۳۲ تر۱۹۳۴ز کال پورې د فاریاب ,میمنې, والي؛ له ۱۹۳۴ – ۱۹۳۶ز کال پورې د فراه ,او چخانسور, والي؛ له ۱۹۳۶ تر ۱۹۳۷ز کال پورې د کونړ والي؛ له ۱۹۳۷ – ۱۹۴۰ز کال پورې د لوګر والي؛ له ۱۹۴۰ تر ۱۹۴۴ز کال پورې د پروان ,شمالي, والي؛ له ۱۹۴۴ تر ۱۹۴۶ز کال پورې د ننګرهار ,مشرقي, والي. له ۱۹۴۶ تر ۱۹۶۳ز کال پورې د پخواني پادشاه محمد ظاهر مصاحب. په ۱۹۶۳ز کال کې وفات سو او د ننګرهار په سُرمه کې خاورو ته وسپارل سو. په دري او پښتو ژبو کې شاعر او لیکوال. د ,,بهار سعادت،، په نوم د خپل کتاب په ویاړ ئې د رحمان بابا ادبي جایزه تر لاسه کړې ده.

## ډاکټر عبدالصمد حامد

د عبدالرزاق حامد زوی د ۱۹۲۹ز کال د جنوری د میاشتي په اتمي نېټي په جلال آباد کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۴۸ز کال کې د نجات له لیسي څخه فارغ سوی دئ. په ۱۹۵۷ز کال کې ئې خپله دکتورا په حقوقو کې د سویټزرلند له پوهنتون

[1] -Surma
[2] -Subgovernor
[3] -Kharbun and Wazir


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

 څخه تر لاسه کړه. له ۱۹۵۷ تر ۱۹۶۵ز کال پورې د کابل پوهنتون د حقوقو او سياسي علومو پوهنوال. د افغان ولسي جرگي حقوقي سلاکار. د کابل پوهنتون د سنا د شورى غړى. له ۱۹۵۹ تر ۱۹۶۰ز کال پورې د معارف په وزارت کي د تدريسات ثانوي رياست مرستيال رئيس او له ۱۹۶۰ تر ۱۹۶۳ز کال پورې ددې رياست رئيس. له ۱۹۶۳ تر ۱۹۶۴ز کال پورې د پروان والي. له ۱۹۶۴ تر ۱۹۶۵ز کال پورې د کابل پوهنتون رئيس. په ۱۹۶۴ز کال کي د اساسي قانون د تسويد د کمېټي غړى. په ۱۹۶۴ز کال کي د اساسي قانون د مشورتي کمېټي غړى. د ۱۹۶۴ز کال د لويې جرگي غړى. په ۱۹۶۵ز کال کي د پلان وزير. له ۱۹۶۵ تر ۱۹۷۲ز کال پورې د افغان سرې مياشتي د ټولني سکرتر جنرال. له ۱۹۶۷ تر ۱۹۶۹ز کال پورې د پلان وزير. له ۱۹۶۷ تر ۱۹۶۹ز کال پورې او له ۱۹۷۱ تر ۱۹۷۲ز کال پورې د ملي اقتصاد د عالي شوري غړى او رئيس. له ۱۹۶۷ تر ۱۹۶۹ز کال پورې او له ۱۹۷۱ تر ۱۹۷۲ز کال پورې د ملي امنيت د شورى غړى. له ۱۹۷۱ تر ۱۹۷۲ز کال پورې مرستيال صدراعظم او د قبائيلو د چارو وزير. د ۱۹۷۸ز کال د نوامبر له ۱۸ د ۱۹۸۰ز کال د جنورئ د مياشتي تر ۱۱ نېټي پورې سياسي زنداني. د ۱۹۸۰ز کال د مارچ د مياشتي له ۱۵ نېټي راهيسي په جرمني کي استوگن دئ.

## حافظ عبدالباقي حامد

د حافظ فقير محمد زوى په ۱۸۹۱ز کال کي په هرات کي زېږېدلى دئ. شاعر دئ چي د هندي سبک پيرو دئ.

## اسلام الدين حامد

د حاجي وليخان زوى په ۱۹۳۸ز کال کي د تخار په اشکمش کي زېږېدلى دئ. په بېلابېلا مدارسو کي ئې ديني زده کړې کړي دي. د تخارستان په ديني ښوونځي کي شامل سو او بيا ديني ليسې (دارالعلوم – ژ) ته تبديل سو او په ۱۹۷۲ز کال کي فارغ سو. کابل ته لاړ او په ۱۹۷۸ز کال کي د کابل د شرعياتو له پوهنځي څخه فارغ سو. په زوره عسکري خدمت ته بوتلل سو او له هغـهٔ ځايه وتښتـېد او په پېښور کي له مجاهدينو سره يو ځاى سو. لومړى بدخشان ته لاړ او مقاومت ئې پيل کړ او له هغه ځايه تخار ته تبديل سو. ويل کېږي چي د «البدر» د گارنيزيون په نوم ستر بنسټ او مورچل ئې په اشکمش کي جوړ کړى دئ. دى د جمعيت اسلامي افغانستان يو بولندوى دئ چي په خان آباد، دشتِ ارچي، قلعـهٔ زال، چاردرې، امام صاحب، نهرين او په بغلان ولايت باندې بريدونه سمبالوي. مورنى ژبه ئې وزبيکي ده.

## حاجي عبدالحميد : وگورئ : حاجي عبدالحميد

## محـمـد حکيم حميدي

د حاجي عبدالحميد زوى په ۱۹۳۲ز کال کي په کابل کي زېږېدلى دئ. په کابل کي ليسې ته تللى دئ او بيا د امريکا متحده ايالاتو ته لاړ. په ۱۹۵۶ز کال کي د سويلي کاليفورنيا له پوهنتون څخه ئې خپل ليسانس په صنعتي منجمنټ يا مديريت کي واخيست او ورسره ئې خپله ماستري په ۱۹۵۸ز کال کي په مارکيټينگ /بازار موندني او د چارو په اداره [4] کي د لاس انجلس له دولتي پوهنتون څخه تر لاسه کړه. په ۱۹۷۰ز کال کي ئې د (امريکا د متحده ايالاتو د گمرکاتو

[4] - Business Administration


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارى ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په څير و لولئ

د بیرو[5] په روزنیز پروګرام کې ګډون وکړ. له ۱۹۶۸ تر ۱۹۷۰ز کال پورې د امریکا د متحده ایالاتو د فدرال ګمرکاتو کشمنر[6]؛ او له ۱۹۷۰ تر ۱۹۷۸۳ز کال پورې د فدرالي بودیجې ډایرکټر[7]. په ۱۹۷۱ز کال کې د مالیې په وزارت کې د مالیاتي عوایدو د بورد غړی؛ له ۱۹۷۶ تر ۱۹۷۷ز کال پورې د بیا ودانولو او رهني/ رهني او تعمیراتي بانک کې[8]؛ له ۱۹۷۴ تر ۱۹۷۶ز کال پورې د افغان بیمې د کمپنۍ رئیس. له ۱۹۷۶ تر ۱۹۸۰ز کال پورې افغان تور کې[9]؛ له ۱۹۷۶ تر ۱۹۸۱ز کال پورې افغان نساجي کمپني کې؛ له ۱۹۷۶ تر ۱۹۸۱ز کال پورې آریانا افغان هوایي کرښه او له ۱۹۷۷ تر ۱۹۸۱ز کال پورې د «مېلمه پال» [10] کمپنۍ کې. له ۱۹۳۷ تر ۱۹۷۷ز کال پورې دلته په کتاب کې د ۱۹۳۷ز کال په لیکنې کې تاپیي تېروتنه سوې ده او باید ۱۹۷۳ز کال وي.- ژ د دولت د کارمندانو د تقاعد د خزانې رئیس. له ۱۹۷۷ تر ۱۹۸۱ز کال پورې د افغان سوداګریز بانک[11] رئیس. د مینه پال مډال ئې تر لاسه کړی دئ.

## حمیرا حمیدي

د غلام غوث لور په ۱۹۳۳ز کال کې په کابل کې زېږېدلې ده. د ملالۍ د نجونو له لیسې څخه فارغه سوې او بیا ئې خپل لیسانس په ۱۹۵۶ز کال کې د کابل له پوهنتون څخه تر لاسه کړ. له ۱۹۶۹ تر ۱۹۷۹ز کال پورې د ملالۍ د لیسې مدیره. په ۱۹۶۷ز کال کې د مېرمن د مجلې محرره. د تأریخ او د پارسي ادب کورسونو ته ئې تدریس کړی دئ. د ۱۹۷۸ز کال کې د لویې جرګې غړې. د افغان سوداګریز بانک له رئیس حکیم حمیدي سره ئې وادهٔ کړی دئ.

## حمیدالله

د غوایي له پاڅون وروسته د کندهار والي.

## حمیدالله خان

د دربار د وزیر علي محمد زوی. د استقلال په لیسې او سویټزرلند کې ئې زده کړې کړي دي. د کابل پوهنتون مدرس. د حقوقو او سیاسي علومو د پوهنځي رئیس. د غازي د لیسې مدیر. د معارف په وزارت کې د لوړو زده کړو د ریاست رئیس. د اطلاعاتو او کلتور په وزارت کې د باندنیو اړیکو عمومي مدیر. د ۱۹۶۳ز کال د اساسي قانون د تسوید د کمېټې غړی. مورنۍ ژبه ئې دري ده. له ۱۹۸۵ز کال راهیسې په سویټزرلند کې استوګن دئ.

## ډاکټر محمد جمیل حنفي

د پښتون غلزي جبارخیل، محمد جان خان زوی په ۱۹۳۵ز کال کې د لوګر په سرخاب کې زېږېدلی دئ. مور ئې په قوم احمدزۍ ده. د غازي په لیسې کې ئې زده کړې کړي او بیا د امریکا متحده ایالاتو ته لاړ او دلته ئې په ۱۹۶۰ز کال کې خپل لیسانس تر لاسه کړ؛ په ۱۹۶۲ز کال کې ئې خپله ماستري په سیاسي علومو کې تر لاسه کړه؛ لیسانس او

5 -U.S Bureau of Customs
6 -Commissioner of Federal Customs U.S.
7 -Director of Federal Budget
8 -Bank of Reconstruction and Mortgage
9 -Afghan tour
10 -Mailmah Pall Company
11 -Afghan Commercial Bank


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ماستري دواړه ئـي د میشیګن له پوهنتون څخه تر لاسه کړي دي. خپله دکتورا ئـي په انتروپولوژي کي په ۱۹۶۹ز کال کي د ږکاربوندیل د سویلي ایلي نویز له پوهنتون[12] څخه تر لاسه کړه. له ۱۹۶۸ تر ۱۹۶۹ز کال پوري په لاس انجلس کي د کالیفورنیا په دولتي پوهنتون کي د انترو پولوژی پوهنیار. له ۱۹۶۹ تر ۱۹۸۲ز کال پوري د شمالي ایلي نویز د پوهنتون پروفیسر. په ۱۹۷۵ز کال کي د امریکا په متحده ایالاتو کي د افغانستان د مطالعاتو د ټولني رئیس. د ګڼ شمېر آثارو مؤلف لکه : ږد افغانستان تأریخي او کلتوري قاموس – چاپ ۱۹۷۶ز کال[13] او د ږویلبر د افغانستان په ببیلوګرافی باندي حواشي – چاپ ۱۹۸۲[14] مورنۍ ژبه ئـي پښـتو ده چي په دري، روسي، تاجیکي او اردو هم خبري کولی سي.
له یوې امریکایۍ مېـرمني سره ئـي وادهٔ کړی دئ؛ د بچیانو نومونه ئـي : مریم، خالد، صوفیا او شاه محـمود.

## فضل حق

د ۱۹۷۸ز کال د مي په میاشت کي د معارف د وزارت دوهم مرستیال وزیر.

نور بیا

## ناهیـد حق

د ضیاء الحق او مریم لور په ۱۹۶۲ز کال کي په کابل کي زېږېدلي ده...

قدرمنو لوستونکو! د ښاعلي رحمت آریا د آرشیف: لینک

12 -Southern Illinois University, Carbondale
13 -A Historical and Cultural Dictionary of Afghanistan
14 -Wilber’s Annotated Bibliography of Afghanistan


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ